دریمځ شتهادت سلی سی عمیم تاید مردم گرد باشید پایه برقرار تا نظام اسلامی شناگ باشد

(٤) صفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (١٠٥٠) سال هژدهم شمارهٔ (١٣٧) دوشنبه (١١) جدی ١٣٧٤ هـ ش (١١) شعبان المعظم ١٤١٦ هـ ق - (اول) جنوری ١٩٩٦ م .

الهی لاربوونی

څوك چي د الله او پیغمبر اطاعت وکړي دوي به دهغوخلکوملګري وي چي پرهغویاندي الله پیرزوینه کړیده . یعني پیغمبران ، صدیقان ، شهیدان اوصالحان ،څومره ښه ده داملګرتیا چي چاته په برخه شي . دا حقیقي پیرزوینه ده چي دالله له لوري کیږي اودحقیقت پوهني له پاره یوازي دالله علم کافي دي .

(النساء - ٦٩ - ٧٠)

حضرت صاحب صبغت الله "مجددی" اسلام آباد ته راورسید

په غیررسمی توګه می اوس هم تولە همدردی له هماهنګی شوری سره ده

استقبال ته یی په نورو برسیره داکترحشمت ، داکتر غیرت ،داکتر طالب اومولوی ترکستانی ورغلی وو

اسلام آباد - وجدي ١٠مه :

دجبهه نجات ملي اسلامي مشرحضرت صاحب صبغت الله «مجددي» پرون سهارله پوه اوږده سفر څخه وروسته اسلام آباد ته راورسید .

له اسلام آباد څخه دشهادت خبریال رپوټ راکوي حضرت صاحب پرون سهارپه (٥/٣٠) بجواسلام آباد هوايي ډګرته راورسید چي استقبال ته یې دملي نجات جبهي پرتنظیمي مسؤلینو سربیره په اسلام آبادکي دحزب اسلامي ددفتر مسؤول داکتر غیرت «بهیر» دهماهنګي شورا ویاند داکتر طالب، داکترحشمت الله مجددي اوپه پاکستان کي دجنبش دنماینده ګیو مسئول مولوي عبدالباقي ترکستاني هم ورغلي وو .

په رپوټ کي زیاته شوي ، وروسته بیا دهماهنګي دعالي شورا په نمایندګی داکترغیرت «بهیر» ،داکترطالب، مولوي ترکستاني اوجنرال پاینده دحضرت صاحب په کورکي ورسره په ځانګړي توګه وکتل . ددي کتني په ترڅ کي نوموړي هیئات دحضرت صاحب مجددي بیرته راتګ ته (٤)مخ

په سروبي کي دحزب اسلامي د ضربتي غونډ عمومي قوماندان له شهادت سره په مخابروي مرکه کي :

دحزب اسلامی ځواك ترپخوا پیاوړی دی او د هر چا د مقابلی توان لری

دحزب اسلامی مجاهدینوهوډ کړی چی خپل ملت به یوازی پرینږدی

سروبي - دمرغومي ١٠ مه :

دجګړي له لاري هیڅ مشکل نشي حل کیداي دکړکیچ حل ترتولو غوره لاره داده چي دښکیلوخواو ترمینځ مخامخ مذاکرات وشي.

داخبري په سروبي کي دحزب اسلامي دضربتي سیار غند عمومي قوماندان زردادخان «فریادي» دشهادت خبریال سره (٤)مخ

اهالی جاجی از ورود طالبان به این ولسوالی جلوگیری مینمایند

جاجي - ١٠ جدي :

اهالي ولسوالي جاجي ولایت پکتیا ضمن تدویر جلسه بزرگي فیصله نمودند که به هیچ نیرویي اجازه ورود به محدوده این ولسوالي را نخواهند داد .

یك منبع حزب اسلامي ازولایت پکتیا گزارش داد اهالي ولسوالي جاجي طي یك گردهمایي بزرگ در چهارني وتدویر شوراهاي جداگانه سرانجام روزشنبه فیصله نمودند که ازورود طالبان به محدوده این ولسوالي باتمام قوا جلوگیري خواهند کرد . این فیصله نامه قبلاً ص(٤)

بابرگزاری تظاهرات ضدافغانی

برخی کشمیری ها خواستار اخراج مهاجرین افغان شدند

راول کوټ - ٩ جدي :

صدها جوان کشمیري درجریان رهپیمایي روزشنبه خواستار اخراج افغان هاي مهاجر منطقه جاموکشمیر شدند .

به گزارش آژانس خبري فرانسه این تظاهرات باتظاهرات حدود سه صد نفر کشمیري که باشرکت در تظاهرات مشابه درجریان یك ماه گذشته درکشمیرتحت کنترول پاکستان که ازطرف اتحادیه ملي ص(٤)

له مزارنه دشهادت خبریال :

جنرال دوستم ولی چی استاد "ربانی" به دجمهوررئیس په توګه نه بلکی دیوه سپین ږیری په حیث استقبالوو

له ډاکتر عبدالرحمن سره مزارته سل تنه داستقبال ګارد هم لیږل شوی و چی دجنبش له خوا مسترد شو

مزارشریف - دجدي لسمه :

له مزارشریف نه دشهادت خبریال رپوټ راکوي چي دجنبش ملي اسلامي افغانستان ، مشر جنرال عبدالرشیددوستم ورمه ورځ له کابل نه دلیږل شوي هیئات مشر داکترعبدالرحمن ته ویلي چي دي په هیڅ توګه دي ته چمتونه دي چي استاد رباني په مزارباشبرغان کي دجمهوررئیس په توګه استقبال کړي .

خبریال واني چي جنرال دوستم واضح کړي ده چي استاد رباني ته به یواځې دیوه سپین ږیري په حیث هرکلي ویل کیږي اوتردي زیات پروتوکول نشي ورکول کیداي .

خبریال زیاتوي چي ورمه ورځ له کابل نه له داکترعبدالرحمن سره سل تنه استقبالیه ګاردله خپلو ضروري وسایلو سره لیږل شوي وو اوپروګرام ئي داوچي کله استادرباني دمزارپه هوائي ډګر کوزیږي ، نوموړي ګاردبه ورته ورانګي کیږي .

خودجنبش مشر جنرال عبدالرشید دوستم په واضح ټکوورته وویل چي دوي په هیڅ توګه حاضرندي چي له استادرباني څخه په رسمي بڼه پذیرایي وکړي، ځکه دي نوګارد ته ضرورت نشته اوبایدګاردله ځان سره بیرته کابل ته یوزي .

خبریال زیاتوي چي دهمدي موضوع په وجه داستادرباني سفرفعلاً ځنډیدلي دي .

په پیښورکی پخوانی سرقونسل محمد ظاهر:

ترڅوچی د ولس رایی ته دمراجعی زمینه برابره نشی دقضیاوو مطمئن حل نشی رامنځ ته کیدای

ماخپل کار دافغانستان دعمومی ګټو له غوښتنی سره سم عیارکړی ؤ

پیښور - دجدي ١٠ مه :

په پیښورکي دافغانستان پخواني سرقونسل محمد ظاهر چي په «سرمعلم ظاهر» مشهوردي «شهادت » ته دیوي مرکي په ترڅ کي وویل چي په اوسني حالت کي متاسفانه زموږجګړي ځپلي هیوادوبحران دحل نښي ته ښکاري ،بلکي ګورو چي ورځ په ورځ اوضاع پیچلي کیږي اوزموږدګران هیواد مستقبل له ګواښونو سره مخامخ کیږي . سرمعلم ظاهر څرګنده کړه چي ترڅو دولس رایي

مساعي صلح جویانه درکشور افزایش یافته است

پشاور - ٩ جدي :

بعداز اعلان اخیر استادرباني رئیس اداره کابل مبني برآمادگي مذاکرات مستقیم باسران مخالفین، گروه هاي متعدد افغان،تلاش هاي خودرا بخاطر دست یابي حل صلح آمیز معضله کشور وتشکیل اداره آینده مشترك ، افزایش داده اند.

به گزارش روزنامه فرانتیرپست ، درهمین راستا هیئتي تحت ریاست استاد سیاف ازجانب اداره کابل وارد جلال آبادشده درحالیکه شوراي هماهنگي درنظر دارد دو هیئت جداگانه درجریان یکي دو روزآینده به بامیان ومزار شریف اعزام نماید .

منبع براساس گزارش هایي که ازمناطق سرحدي افغانستان باپاکستان دریافت نموده مینګارد: هیئت کابل متشکل ازاستاد سیاف، صدیق چکړي ،مولاناسمیع الله ودانش یار بعدازظهر ص(٤)

په پیښورکی دطالبانودنمایندګی مسؤول مولوی احمدجان له شهادت سره په مرکه کی :

ربانی اوملګری یی دخپل قدرت دبقا لپاره هرخیانت ته حاضر دی

ایران دطالبانو پرلاس دیوه اصلی اسلامی نظام له ټینګښت څخه ویره لری،

پیښور - جدي ١٠ مه :

په پیښور کي دطالبانو دنمایندګي مسؤول مولوي احمدجان بیګاه شپه له شهادت سره دیوي تیلفوني مرکي په ترڅ کي مزارشریف ته دریاني داحتمالي سفر په اړوند ووېل : دادرباني اودهغه دملګرو دپخوانیو منافقتونو دسلسلي دوام دي، هغوي دخپل قدرت دبقاء لپاره هرخیانت ته حاضردي .

همدا رباني وو چي لومړي یې ددوستم په ملګرتیا دنورو په خلاف جګړه پیل کړه ، بیاچي کله دوستم له دده څخه بیل شونودوستم یې کمونست وباله اودهغه پرخلاف یې جهاد اعلان کړ اوس بیا (٤)مخ

در ولایت بامیان :

حملات شوراي نظار برمواضع شورای هماهنگی ناکام شد

بامیان - ١٠ جدي :

دوحمله نیروهاي شوراي نظار درولایت بامیان بامقاومت نیروهاي شوراي هماهنگي روبرو گردیده باشکست مواجه گردید .

یك منبع مسؤول حزب وحدت اسلامي ازولایت بامیان طي تماس مخابروي به شهادت گفت : نیروهاي شوراي نظار طي هفته گذشته بالاي مناطق چشمه بیوك ودره غلي برمواضع نیروهاي شوراي عالي هماهنګي حمله نمودند که درنتیجه بامقاومت شدید نیروهاي شوراي عالي هماهنګي روبروشده وبا شکست فاحش مواجه گردیدند.

درخبرآمده است که درجریان این نبرد تعدادي از افراد دشمن کشته وبازخمي شده است .

استاد رباني مسؤول اعاده صلح درافغانستان است

آصف احمدعلي

اسلام آباد - ٩ جدي :

سردارآصف احمد علي وزیرخارجه پاکستان اظهارداشته که مسولیت عمده واساسي اعاده صلح به افغانستان بدوش برهان الدین رباني بوده ، اگردرانجام این امرناکام شود وي مسؤول عواقب بعدي خواهد بود .

به گزارش روزنامه فرانتیرپست آصف احمد علي اظهارداشت که رئیس جمهور رباني مسؤول ایجاد شرایط صلح درافغانستان بوده ومسؤولیت زمینه سازي براي اعاده صلح درافغانستان رادارد واین کاربا احیاي پروسه مذاکرات بامخالفان باهدف تشکیل اداره مشترك ص(٤)

دکابل اداری دهیئات دغوښتنی سره سره دحزب امیرله هغوی سره کتنه نده کړی

دکابل اداري داهڅی دقدرت دبقا لپاره دچانس ترلاسه کولو او دطالبانو اوهماهنگی شوری ترمنځ دبی اعتمادی پیداکولو لپاره دی

جلال آباد - دمرغومي ١٠ مه :

سره لدي چي دجلال آباد ښارته دکابل اداري له خوا دیرله پسي هیئاتونو دراتګ لړي روانه ده او هیله څرګندوي چي دحزب اسلامي افغانستان له امیر ورور حکمتیار سره وګوري، خودحزب امیر نه تراوسه له دي هیئاتونوسره کتلي اونه په راتلونکي کي دکتني څه اراده لري .

له جلال آباد څخه دشهادت خبریال رپوټ راکوي ورور حکمتیار پرون هم دجلال آبادپه ښار کي وو او په خپل هستوګنځي کي یې دتنظیمي مسؤولینواومحلي خلکو سره لیدني کتني درلودي :

رپوټ وایي دکابل اداري دهماهنګي شورا دببلابیلو مشرانو سره له مذاکراتونه دوه هدفه ترلاسه کول غواړي اوهغه داچي له یوي خوا غواړي دخپل قدرت دبقاء لپاره هلي ځلي وکړي اوبل لورته دهماهنګي دعالي شورا اودطالبانو دغوړځنګ ترمینځ په نژدي والي کي خلل اوبي اعتمادي رامینځ ته کړي .

حزب اسلامي پدي عقیده دي چي ترڅوربانی په مخلصانه توګه دي ته آماده نشي چي دټولوله خوادتوافق په اساس یوه جوړشوي کمېسیون ته قدرت انتقال کړي ، ترهغي به دامسئله نه حل کیږي . له همدي امله دکابل اداري دهیئاتونودپرله پسي غوښتنو سره سره دحزب امیر ندي حاضرشوي چي له هغوي سره وګوري .

یکتن ازقاتلان شهید «منصور» درحادثه ترافیکي جان باخت

کترها - ١٠ جدي :

قوماندان امام جان یکتن ازقوماندانان انجنیرقرار که متهم به شرکت درقتل شهید محمدناصر«منصور» قوماندان عمومي حزب اسلامي افغانستان درولایت لغمان بود ، به هلاکت رسید .

براساس گزارش هاي رسیده ازولایت کترها، روز گذشته شخص نامبرده حین سفرازکترهابه پاکستان درمنطقه نواپاس این ولایت طي حادثه ترافیکي کشته شد .

گزارش مي افزاید که درین حادثه چندتن ازمحافظان وي جراحت برداشته اند .

موسی خان د "آی ، اس ، آی" له مشوری پرته وایستل شو

شیرپاو، بابر او سردار آصف دموسی خان دتائید پره په آی،اس، آی ورواچوله

پیښور - دلیندي ١٠ مه :

یوي باوري منبع شهادت ته وویل چي له پاکستان نه دکابل اداري پخواني سرقونسل موسي خان دایستوبریکړه هغه وخت وشوه چي ددي هیواد (٤)مخ

استاد خلیلي طي دیدارباهیئت اداره کابل دربامیان :

حل مشکل افغانستان با شرکت تمام نیروها درساختار سیاسی کشور ممکن میباشد

بامیان - ١٠ جدي :

استادمحمدکریم خلیلي دبیرکل حزب وحدت اسلامي باداکتر عبدالرحمن وزیر هوانوردي اداره کابل درولایت بامیان دیداروملاقات نمود .

یك منبع مسؤول حزب وحدت اسلامي طي راپورمخابروي خویش به شهادت گفت، که درین دیدارآخرین تحولات وانکشافات اوضاع سیاسي کشور مورد بحث وبررسي قرارگرفت .

منبع افزود موقف حزب وحدت اسلامي مبني براینکه جنګ راه حل بحران کشورنیست ومشکل افغانستان تنها ازراه مذاکره و تفاهم و شرکت تمام نیروهادرساختار سیاسي آینده کشورممکن میباشد، مورد تاکید قرارگرفت . وي علت اساسي بحران افغانستان راانحصارطلبي وقبیله سالاري دانسته وتاکید به عمل آورد تازمانیکه دولت اسلامي درکشور تاسیس نگردد، به حقوق همگي احترام گذاشته نشود و همه نیروها درساختار سیاسي کشورشرکت نورزند، مشکل افغانستان حل نمي گردد .

منبع گفت درین دیداراستمرارمذاکرات مورد تاکید قرارگرفت .

درین دیدارعلاوه برداکترعبدالرحمن ، مولوي عزیز، پهلوان یحیي واستاد ذره رئیس تفتیش ریاست امنیت اداره کابل نیز حضورداشتند .

حجت الاسلام شیخ ذکي به حیث والي ولایت بامیان مقررگردید

بامیان - ١٠ جدي :

اعضاي حزب وحدت اسلامي تحت ریاست محمدکریم خلیلي دبیرکل آن حزب تشکیل جلسه دادند .

یك منبع مسئول حزب وحدت اسلامي طي راپورمخابروي خویش به شهادت گفت : درین جلسه محمدکریم خلیلي درارتباط به وضع نظامي وسیاسي کشور معلومات وبه مسئولین هدایات داد .

درخبرآمده است درین جلسه حجت الاسلام شیخ ذکي به حیث والي ولایت بامیان تعیین گردید.

شهادت
ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان
بیانګرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ
سرمحرر : محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

د «هم آهنګی شوری» مستقبل

افغانستان ته دایران دبهرنیوچارو دوزارت مرستیال علاء الدین «بروجردي» تاوده سفرونه کوي . ددي سفرمهمه اجنډا هم دامعلومیږي چي « حزب وحدت » او «جنبش » له کابل اداري سره نږدي کړي . په دي باره کي ایران فوق العاده زیاته دلچسپي ښئي، هغوي په پیل کي دحزب اسلامي قیادت ته هم پرله پسي پیشنهادونه وکړل چي له کابل اداري سره تفاهم وکړي اودوي چمتودي چي دحزب دشرایطو دپوره کېدواوترون دتطبیق په برخه کي پاخه تضمینونه ورکړي .

خودحزب زعامت ئي پیشنهادونه ونه منل اوورته وئي ویل چي په داسي اقداماتونه بحران حل کیږي اونه حل ته ورنږدي کیږي - په کارده چي استاد «رباني » استعفي وکړي او دټولوپه خوښه یوه اداره رامنځ ته شي اود انتخاباتوله لاري دقانوني اومنتخب حکومت دجوړېدو لپاره زمینه برابره کړي .

دایـران مامورین دحزب ددریځ اواستدلال په وجه مایوس شول. او په دي باره کي ئي خپل فعالیت سست کړ چي حزب له کابل سره تفاهم اوترون ته کینوي . مګر دجنبش اوحزب وحدت په رابطه ئي سرګرمي نه یواځي کمه نکړه ،بلکي لائي زیاته کړه .

اوس خوخبره دي ته راورسیده چي دکابل یومهم هیئات بامیانو ته ولاړ اووروسته ئي دمزار او شبرغان چکرهم ولګاوه . اودادي هغي خواته داستاد رباني دتلوخبري هم کیږي داجریان حتماً داپوښتني راولاړوي چي په دي حالت کي د« شوراي هم آهنګي » مستقبل به څه ډول کیږي ؟

واقعیت دادي چي دهم آهنګي شوري په تخریب کي ځیني لاسونه په قوت لګیادي ،هغوي هریو دخپلو بیلابیلو اهدافولپاره غواړي «شوري » متلاشي کړي، ځیني داغواړي چي دتعصباتو اوحساسیتونو داوړونو لمبي بیا اوچتي شي اوځیني ددي هڅه کوي چي په هم آهنګي شوري کي راټول تنظیمونه اوقوتونه سره جلاجلا کړي ، له خطرنه ئي ځان بي غمه کړي اوګټه ئي په خپله لمن کي ورټوله کړي .

مونږ دانشوردولاي چي دهم آهنګي شوري کوم غړي تنظیم به دخپلوګټولپاره ځیني هغسي ګامونه پورته نکړي چي ورته نوي سیاسي اقدام وویل شي خوداخبره په پوره باور او دقت کولاي شوچي دااقدام به په هیڅ توګه داسي نه وي چي دهم آهنګي شوري وجود په خطرکي واچوي، بلکي افادیت اوهویت ترپوښتني لاندي راولي اویا پریوه بله بابل رنګ دشوري دکوم غړي تنظیم له ګټوسره په تضاداوټکرکي وي .

له کابل سره دجنبش اوحزب وحدت دمذاکراتو نتیجه ډېره روښانه نه معلومیږي ، ددي یوعامل د«اتحاد » او«ترون» په باره کي دکابل اداري خورابداونارره ریکارددي، په دي علاوه نوربیلابیل عوامل داسي دي چي ددوي ترمنځ په یوه داسي قرار دادباندي موافقه له مشکلاتو سره مخامخ کوي چي په هغه کي دبحران دکلي اواساسي حل اجنډا اوهدف نه وي نغښتي.

خوکه فرضاً لکه دمخه موچي وویل که کوم نوي سیاسي اقدام اوتصمیم رامنځ ته هم شي، د«همآهنګي شوري» په وجود، افادیت اونقش باندي به هیڅ منفي اغیزنه کوي، دشوري غړي قوتونه به په لازیات وحدت،تفاهم ،متقابل درك اودرناوي هم آهنګي شوري فعاله ساتي اودهیواد دیوه مهم اواساسي ځواك په توګه به دقضایاوو په حل کي فکراوعمل کوي .

په ترکیه کي داسلامي حزب «رفاه» دموفقیت نتایج :

ترکیه هم دالجزایر په قدم

لومړی برخه قریب الرحمن «سعید»

دجدي په دریمه ورځ (ددسمبر په ۲٤) دیك شنبي په ورځ په ترکیه کي عمومي انتخابات ترسره شول. په دغه انتخاباتو کي پنځو مشهوروګوندونو برخه اخستي وه چي په کي د«رفاه» اسلامي حزب دنجم الدین اربکان په مشري، دریښتوني لاري ګوند دترکیې داوسني صدراعظمې میرمن تانسوچیلرپه مشري دموروني ځمکي ګوندمسعود ایلماز په مشري، پخواني صدراعظم بلند ایجویت دیموکرات ګوند اوجمهوري غوښتونکي ګوند ګډون درلود .

په دغه انتخاباتو کي لمړي درجه راي چي نږدي ۲۲ په سلوکي برابریږي د۱۵۸ چوکیو په تناسب د«رفاه» اسلامي حزب ترلاسه کړي او په دي ترتیب دترکیې دانتخاباتو لمړني ګوند محسوبیږي ، ترڅنګ ئي دویمه درجه یاپه سلوکي ۲ - ۱۹ د (۱۳۵) چوکیوپه تناسب داوسني حاکم ګوند دمشري چیلر لاس ته ورغلي اویه سلوکي ۸ - ۱۹ راي د(۱۳۲) چوکیو په تناسب دایلماز ګوند، ۷٦ چوکي پخواني صدراعظم بلند ایجویت او ۵۰ چوکي جمهوري غوښتونکوترلاسه کړي .

دترکیې په انتخاباتو کي داسلامي حزب « رفاه » بري دترکیې په تاریخ کي دیوه ستربدلون په خبرحسابیږي . اوداځکه چي ترکیه یودهغواسلامي هیوادونونه دي چي ددین دتبلیغ اوترویج کاراویا ددیني اصولو سره سم عمل کول قانوناً جرم ګڼل کیږي .

دغه قانون د۱۹۲۳ څخه راپدېخوا دترکیې مقتدرحاکم اتاترك لخوادترکیې دعصري کولو اوترکیه کي دغربي تهذیب اوتمدن دترویج په خاطر نافذ شوي و. هلته په ټولو اسلامي اقدارو اوارزښتونوبندیز ولګید . هیڅ مسلمان په ښکاره توګه داسلام فرایض نه شو اداکولاي، مسلمانو

> دترکیې په انتخاباتوکي د«رفاه » اسلامي حزب موفقیت دنړي پر مسلمانانو کي نوي ولولي راپیدا کړي او هغه مسلمانان چي دامریکا دنوي نړیوال نظم NEW WORLD ORDERS دسلطې لاندي دبنیاد ګراو ... په نوموتویه افغانستان ،فلسطین ، کشمیر ، بوسنیا، فلپین ... کي دزجر او تکلیف ، شپي اوورځي تیروي دنوواميدونو سره مخ کړي.

ځوانونوچي غوښتل ئي په پوهنتونو اومکاتبوکي خپل سرپه پوښي باندي پټ کړي دمکتبونواو پوهنتونونو څخه اخراجیدي اودټولو او ملتدوښکارګرزیدي دترکیې ددغه غیر مذهبي اواسلامي ضدقانون سترمحافظین دترکیې عسکري ځواکونه دي . اوځکه چي هم په ترکیه کي داسلام ددین په لوردمیلان او رغبت په هکله تصورهم پیداشوي هغه دترکیې دعسکري ځواکونوځوا ټکیدلي هلته هڅه شوي چي دتوروو ادبانوسره دپیرزوینې ترڅنګ داسلام ددین دمنوتکي سره

دخپلوله پاره دهیڅ ډول وسیلې څخه دریغ نه دي شوي . همدا علت دي چي داوسنیو انتخاباتوپه نتایجو هم دترکیې عسکري ځواکونه خوښ نـه ښکاري اوداسلامي حکومت څخه دمخنیوي په خاطر دغیرمذهبي تنظیمونو دااتحاد له پاره شپه اوورځ هلي ځلي کوي .

ماخپله په ۱۹۹٤ کال کي ترکیې ته دجمهوررئیس داستادبرهان الدین رباني په

هیئت کي داقتصادي ګډې همکاري یاECO په کنفرانس کي دګډون له باره سفر کړي و اوهلته موترکیې دمسلمانانو دمختلفو ډلو سره دلیدنوموقع اوفرصت درلود . په ترکیه کي دمسلمانانو احساسات اودهغوي دیني جذبه دستاېلو وړده . په هماغه وخت کي مواحساس وکړچي ترکیه به ډیر ژر درفاه داسلامي حزب دقیادت لاندي داسلامي حکومت دجوړېښت مشرفه شي .

ترکیه داسي یوهیواد دي چي یوه برخه ئي په اسیاکي اوبله ئي په اروپا کي پرته ده . خو په دي ټول وخت کي اروپائیانوکوشش کړي چي دترکیې ولس دغربي ټولني په رنګ کي رنګ کړي . خوهیڅکله ئي هم دغه ولس په دي خاطرچي اسلام سره ئي مینه اوجذبه ډېره زیاته ده دخپل اتحادیې پوري مربوط ولس نه دي ګڼلي . ددي ترڅنګ ئي داسلامي نړي څخه ترکیې دانزوا له پاره هرډول تاکتیکونه په کاراچولي اوهڅه ئي کړي

چي دترکیې دولس توجه د دهغوي دورئي، روښانه تاریخ اوداسلامي تاریخ اوارزښتونوڅخه واړوي .

که څه هم اروپائیان تریوځته پوري په دي موفـق شـول خودترکیې خلکودحقایقو په درك کولو سره داروپا پردي اوبیګانه فرهنګ له یوه سره مستردکړ . اروپائیانو ددي هڅه هم وکړه چي ترکانو اومسلمانانو تر نوموتولاندي

دترکي نژاد اوعربو ترمنځ داختلافاتو خلیج زیات کړي خو موفقیت ئي لکه څنګه چي ورته منتظروو هغسي ترلاسه

نکړ . ددي نه علاوه دترکانو په مقابلي کي داروپائیانو دوه مخیزه پالیسي اوهم دترکانو دهیئنګاراو زیات اصرار سره سره هم هغو ي په اروپائي اتحاد پـه EUROPEAN UNIONکي ځاي نه ورکړلو اوهم دترکانوهروګري دوضعي دحساسیت په لور پوره متوجه کړي و.

اروپائي اتحادئي دترکانوسره دقبرس په موضوع هم خیانت وکړ اوملګري ملتونه

ئي وهڅول چي دقبرس دعیسویانوسره دشمالي قبرس د مسلمانانو په مقابل کي تعاون وکړي او پـه دي ترتیب دترکي مسلمانان دشاله لوري په چاقووهي . ددي کار لـپاره داروپائي هیوادونو ځواکونواوپه ځانګړي توګـه د فرانسي ،انګلستان ، جرمني ، سربیا، یونان او قبرس عسکري ځواکونوپه قبرس باندي دترکیې د۳۰۰۰ کلن حکومت دبدل او انتقام اخستلو په خاطر دترکانوپرخلاف قیام وکړ . اوممکن چي اوس هم هغوي په قبرس کي دنژادي تصفیي ،ترنامه لاندي دترکي نژادمسلمانانو دله منځه وړلو له پاره هڅي پیل کړي .

داروپائي هیوادونو د نژادي تعصب ترڅنګ بیاهم په ترکیه کي (۷۳) کاله وروسته یوځل بیا داسلامي نظام دبیاحیا په خاطر دترکیې مسلمانانو نړیوالو ته خپل پیغام په ډاګه کړ اودائي ورته ثابته کړه ،چي ترکان اوس هم په خپلواسلامي اقدارو اوارزښتونو باندي دپخوانه څخه زیات فخرکوي اوهیڅکله به هم دخپلوفرهنګي ارزښتونو په هکله دسازش لاراختیار نکړي . دترکیې اوسنیو انتخاباتو دا ثابته کړه چي هغه تنظیمونو چي غیرمذهبي یاسیکولررنګ درلود اوخپل مذهب ،فرهنګ اوملي ارزښتونو په هکله ئي سازش کړي و اوخپل ځانونه ئي دنوروپه غیږکي وراچولي و خپل حمایت په ولس کي دلاسه ورکړ ،اوممکن په راتلونکي انتخاباتو کي دغه لږڅه حمایت چي اوس ئي ترلاسه کړي، هم ترلاسه نکړي.

د«رفاه » اسلامي حزب بواځي په پارلماني انتخاباتوکي نه بلکه ددي دمخه

ئي په سیمه ایزو بلدیاتي یاشهروالي انتخاباتوکي هم د۱۹ په سلوکي دراي په اخستلو پوره اکثریت ترلاسه کړي و، اوپه ۲۹ لویو ښاروټوکي ئي داستنبول اوانقري په شمول خپل ښاروالان ټاکلي ود . هغوي په ولس کي په پوره تدبیرددعوت کارپیل کړي،و اوددعوت مشخصات ئي هم:اسلامي نظـام اعاده ، داروپائي هیوادو او ناټو څخه دترکانو خلاصول اواسلامي هیوادونو ترمنځ دیوه قوي بلاك رامنځته کول او د اسرائیلو څخه دبیت المقدس دآزادي پوري جدوجهد ته دوام

ورکول و . هغوي دترکیې دولس دفرد فرد غوږونوته په داسي حال خپل آواز ورورساوه چي ترکیې قوځ اوددغه هیواد اساسي قانون ئي دهلي په مخکي سترخنډونه پیداکول . همدارنګ د«رفاه» داسلامي حزب مشرنجم الدین اربکان په ټاټوکي دترکیې دغربتوب اوهم پداروپائي اتحادیې کي دشمول په هکله خپل مخالفت په ډاګه اعلان کړي اوداپې هغه او دهغي ګوند په دي انتخاباتوکي لمړي درجه ووټونه ترلاسه کړي ددي ادعا ثبوت دي چي ترکان غواړي داربکان دغه شعارونه عملي بڼه اختیار کړي اودغربي فاسدکلتورڅخه ځان وژغوري اوداسلام په کلتورکي خپل ژوند منظم کړي .

دترکیې دغیرمذهبي سیکولر ډلو اوهم دانتخاباتي مبارزي په جریان کي داروپائي اتحادیې لخوا دچیلردحکومت په دغه اتحادیې کي دتجارتي سهولتونو دامتیازغوښتلو مثلو دهڅو سره سره بیاهم دترکیې خلکو وښوده چي داسلام اوددغه سپېڅلي مذهب اوتګ لاري سره پوره مینه لري اوغواړي دغربي مشربه بي مسلکه ډلو دحاکمیت څخه ځان وژغوري . په دي اساس ئي مرحله په مرحله حقیقي اسلام دهغي اسلام څخه چي غربي تبلیغاتو دخلکوپه ذهن کي

> د«رفاه » ابیلامي حزب بواځي په پارلماني انتخاباتوکي نه بلکه ددي دمخه ئي په سیمه ایزو بلدیاتي یاشهروالي انتخاباتوکي هم د۱۹ په سلوکي دراي په اخستلو پوره اکثریت ترلاسه کړي و. اوپه ۲۹ لویو ښارونوکي ئي داستنبول اوانقري په شمول خپل ښاروالان ټاکلي و . هغوي په ولس کي په پوره تدبیرددعوت کارپیل کړي و اوددعوت مشخصات ئي هم اسلامي نظـام اعاده ، داروپائي هیوادو او ناټو څخه دترکانو خلاصول اواسلامي هیوادونو ترمنځ دیوه قوي بلاك رامنځته کول او د اسرائیلو څخه دبیت المقدس دآزادي پوري جدوجهد ته دوام ورکول و .

ځاي په ځاي کاوه توپیرکړ اوداسلام حقیقت ئي درك اودهغي دعملي کولو له پاره ئي تصمیم ونیو.

په ترکیه کي د۱۹۲۷ عیسوي کال راپدېخوانه یواځي په سیاسي اسلامي

فعالیتونوباندي بندیزونه لګول شوي و، بلکه په ځینونورو غیرسیاسي مذهبي ډلولکه نقشبندي اوسلیماني اودصوفیانو ورورګلوي ، بکتاشي BEKTASHI مولوي MEVLVI چي په درویشانو ئي شهرت درلود،هم بندیزونه لیږدلي و ، خو داټول بندیزونه د«رفاه» داسلامي ګوند دپرامته دیني تبلیغاتو دقوت اوپه حاکمي ډلي داثراتو په واسطه نرم شول اواوس دغه بندیزونه له منځه تللي .

په ترکیه کي د«رفاه» داسلامي حزب

اتاترک

ترڅنګ دحزب الله په نوم یوه بله‌ډله هم وجودلري خوهغه دله دامن ته دك اسلامي دعوت اوبلني په ځاي په وسله واله مبارزه باندي یقین اوباورلري اوغواړي چي دوسله والي مبارزي له لوري هلته اسلامي نظام قایم کړي. د«رفاه » اسلامي حزب اوددغي ډلي ترمنځ روابط ښه نه دي اونه دغي ډلي په اوسنیو انتخاباتو کي د«رفاه » دحزب ملاترکړي . خواوسنیو انتخاباتو ثابته کړه چي دترکیې خلك په وسله والي مبارزه نه بلکه په پرامنه بدلون اعتقاد لري او ددغه بدلون له پاره د«رفاه » اسلامي حـزب دتعلیم یافته مسلمانو ځوانانوکدرونه تربیه کړي .

دترکیې په انتخاباتوکي د«رفاه » اسلامي حزب موفقیت دنړي پهمسلمانانو کي نوي ولولي راپیداکړي اوهغه مسلمانان چي دامریکا دنوي نړیوال نظم NEW WORLD ORDERS دسلطې لاندي دبنیاد ګرا او... په نوموتویه افغانستان ،فلسطین ، کشمیر ،بوسنیا، فلپین ... کي دزجراوتکلیف شپي اوورځي تیروي دنوواميدونو سره مخ کړي .

(دوام لري)

طنزهفته
بقلم بیسواد

نه بآن شوري شور - نه به این بي نمکي

میګوین که (روغن طرف چقوري میره) . راست ګفتن . خدا بري هرکسي مقام ورتبه وپول شغلي که بشماداده ، نصیب نخات کد .... رئیس صاحب خودتان [illegible] خان وخان زاده بودین ... حالي هم که هرچیزدارین ، ازبرکت همو داراېي پدر وخاندان تان اس ... اګه [illegible] ، نه پول مجاهدینه [illegible] ، نه سلاح فروختین ، نه منحیث هیئات هاي مصالحه که هم ازحزب اسلامي پیسه مي ګرفت وهم ازاداره کابل ، شکم تانه سیرکدین ، نه باکمیته هاي خارجي روابط داشتین ونه جاسوسي کدین ، [illegible] ، نه متلون مزاج بودین که ګاهي ده یك تنظیم وګاهي ده دیګه تنظیم برین ، نه موتلف تانه به اداره کابل فروختین ... خورئیس صاحب خداسایه طالع تانه [illegible] که ازبرکت (ګرم ، ګدوهم اوبخوره) ... همي طالع تان اس که خدا بریتان مقام [illegible] داده ... اګه نی [illegible] تحصیل [illegible] نداشتین ... همي موترك [illegible] ره که [illegible] نصیب [illegible] ... [illegible] ... همي مه [illegible] تانه که مي بینم که طرف خانه میرین وتابوك نقلي

ګك موټرك مقبول تان که ده سرو روي ماخاك یاد میکنه ، خدا شاهد اس که دلم تازه میشه وپیش خودمیګم

- آدم خدمتګاررئیس هم باشه مثل شما ... قربان قدچنارتان شوم ... تام خدا ازقواره تان نورمي باره .

مه حتي چنددفعه بري مادر اولاد ها یاد کدم .... تعریف تان خو ده زبان مه ګناهکارخونښتیه ... خوګفتم شکرکه مااینطور یك رئیس صاحب داریم که ازموي سرتا شصت پایش تقوي ، عزت نفس وجهاد اس ....

اګه رئیس صاحب ماهانه پنجاه هزارکلدارازمدارك مختلفه معاش داره ، خوسي ارزه ، کمالش ده همي اس همقه نام خداکار میکنه ... همي یك تیلفون ګپ زدنش ده خارجه وداخله ، کتي فامیل ،دوست وخویشاکه نام خدا زیاد شان کنه ، حوصله کارداره .... اي بسیارمشکلس رئیس صاحب که هم آدم ده تیلفون مصروف باشه ، هم جلسه داشته باشه وهم عرایض مردمه امضا کنه .

راستي رئیس صاحب ...ا قربان قدچنارتان شوم ... مه دیشوشماره یك خودیدم ... خداقبول کنه ... بري مادر اولاد ها هم قصه کدم ... مره پیش یك ستاره شناس روان کد که ده اي وخت ها ده کل پشاور اعلانش دیوارهاره پرکده ...

ګرچه دوسه صدکلدارمره هم ګشت ... خوسي ارزه ... مه اګه کل زندګي زن واولادهاي خوده نظرانه بیتم ، هنوزهم کم اس ... رئیس صاحب اګه ولي نیستین ،خالي هم نیستین ...

ستاره شناس برم ګفت .

- بسیار خوب خودیدي ....
تعبیرش شیریني کارداره ...
صدکلداردیګه مره هم ګرفت ... خوبازهم مي ارزه .

رئیس که تاآن لحظه منتظر تلق ،ماموراداري خودبودګفت :

- چاپلوس زاده ... ا چي خودیدي .....ا

چاپلوس زاده ګفت :

- قربان قدچنارتان شوم ... خودیدم که همه جاي سبزوخرم اس ... باغهاي میوه ،آب روان ، پرنده هاي خوشرنګ ... ومردم زیاد همګي انتظارتانه دارن تااینکه شما ازدور میآین ، ده سریك اسپ سفید ... لباسهاي سفید وطلایي هم ده جانتان اس ... چهره تان مثل القتوروشن ... مه قبضه اسپ تانه ګرفتیم ده بین مردم میریم ... همګي احترام تانه میکنن ... شما بري شان دعامیکنین وازیك تاك یك خوشه انګورکنده ،دوسه دانه را خورده وبقیه خوشه ره بري مه میتین که بخورم ...

بعدازاوشماباسپ تان به هوا میرین ومه هم همرایتان قبضه اسپه محکم ګرفتیم،

رئیس پرسید :

- ستاره شناس بازچي ګفت ....!

چاپلوس زاده جواب داد :

- ګفت که رئیس تان حتماً درآینده افغانستان صدراعظم یارئیس جمهور خات شد وخودت هم مدیرقلم مخصوص اش مقررمیشي ... ده پول وپیسه هم هرچي پیداکنه سه تست ره خودش وبقیه ره به خودت میته ...

مه از خوشحالي زود کده به خانه رفتم وبه مادر اولادها قصه کدم . اوهم دیروز که (شومرده ها بود) یك حلوا ونان پخته کده به مردم خیرات کد ... خدا قبول کنه ...!!

رئیس که تحت تأثیر ګفته هاي چاپلوس زاده رفته بود ، احساساتي ګفت :

- مدیرصاحب چاپلوس زاده ...!
خدابرت اجرعظیم نصیب کنه کتي همطورخودیدنت بروبراستي اګه مه رئیس جمهورشدم ،حتماً تره مدیرقلم مخصوص خود مقررمیکنم وهمي موتر (پیجارو) ره که بري مادراولادهاخریدم ، برت بخشش میتم ...

* * *

چند وخت بعد رئیس صاحب ده اختلاس ګیرآمد وازکاربرطرف شد ... دو سه موترش ره هم ضبط کردند ..... ده همورروزهاي اول غالمغال رئیس وزنش بلند شد که خانمش میخواست پیش بیادرهاي خود ده امریکابره .....

خودشه بندي کدن ، زن رئیس صاحب هم چیزي پیسه ره که شوهرش (کوري وکبودي) کده بود بري قاچاقبرداد وباسه طفل خود امریکارفت ...،

دیګه سرمایه رئیس صاحب راکه همراي یك صراف ده چوك یادګار شریك شده بود ، شریکش تر کده قندوقروت ګفته نوش جان کد .... یك چیزمال ومتاع رئیس صاحب که ده کارقاچاق افغانستان بود ، اوره هم معامله دارانش وختي دیدن که ازمنصب وقدرت افتیده ، دزدي کده

قرارکدن .... دوسه دکان پنجاره که ده کارخانو داشت ، اوره هم خسربره اندرش منکر شده وملکیت خود ساخت ....

زن رئیس صاحب که ده امریکا رسید و(ستي زن) شد ، شوهر خودره فراموش کده وبري ازیکه (کیس) پناهنده ګي اش قویترشوه ،ګفته بود :

- مه ازشوهرم ازخاطریکه آدم متعصب بود طلاق ګرفتم وبخاطر امریکاآمدم که طرفدارآزادي استم ...

رئیس صاحب وختي اززندان به رشوت وچند واسطه خلاص شد ،الف ده جګرنداشت وازمفلسي پشیومي زنت .

زمانیکه خبریافت که چاپلوس زاده دریکي از موسسات آمر عمومي مقررګردیده ، بامحبت هاي زیادي که ازاودیده بود ،ول رادریاکرده وعریضه نوشت تابحیث مامور مقررګردد .

بعدازیك هفته انتظار ومراجعه وقتي به اتاقش داخل شد ګفت :

- رئیس صاحب چاپلوس زاده سلام ....

- شمارا نشناختم ومه هم چاپلوس زاده نیستم ... اسم مه (آبرومند) اس .

- ببخشین آبرومند صاحب ... مه ... هـ هـ .... چطور بګویم ... مه همورئیس تان استم که ....

- هان شناختم که ده خیانت رسوا شدي، ملك مره فروختي ، توخائن ،وطن فروش ، بي آبرو .

- هرچه مي فرمائین درست اس ... اما میخواستم بپرسم که مره به حیث مدیرقلم مخصوص تان مقررمیکنین ؟

- قطعاً ني .... لطفاً زحمت تان ازسرمه کم کنین ومزاحم مه نشین ...

- فق یك سوال دیګه ... شماخو مره ده خوا(خواب) دیده بودین که یاصدراعظم ویا رئیس جمهورخات شدم

ص(٤)

بخش آخر
کشورهاي اسلامي ونقش سازمان ملل

قضیه فلسطین سال هادرسازمان ملل زیربحث قرارداشت، سرانجام خطهٔ کوچکي درکناره غزه رابه فلسطینیان سپرده آنهاراخاموش نمودند، در حالیکه درهمین سرزمین کوچك هم هرروز متجاوزین اسرائیلي مسلمانان فلسطین را حق زندگي نمي دهند، هر روز تصادم وکشمکش صورت مي گیرد، مردم مظلوم فلسطین بدست جناوران اسرائیلي کشته مي شوند، اما سازمان ملل این همه را مشاهده کرده خاموش است وحرکتي ازخودنشان نمي دهد .

به همین ترتیب سرب هاي بوسنیا هرزگوینابامسلمانان مظلوم آن خطه ظلم وجبري روامیدارندکه تاریخ ازپیش کردن نظیرآن عاجز است، شاید نسل هاي آینده تاریخ تجاوز آن ها رامطالعه کرده احساس شرم کنندوبه حیرت روند که انسان هم به سرحدي مي رسدکه بالاي همنوع خویش چنین جبر وستم روا دارد . سازمان ملل براي جلوگیري ازتجاوز سرب ها افواجي هم به آن دیارفرستادکه درآن پاکستان هم سهم داشت لاکن سرب هاي ظالم وجابرباوجود حضورافواج سازمان ملل ازعملکرد هاي زشت خویش بازنیامدند وبرظلم وتجاوز ووحشي گري خویش ادامه دادند، افواج سازمان ملل ازخود هیچ فعالیتي نشان ندادند زیرا به آنها دستورداده شده بودکه خاموش باشند وحرکتي ازخودنشان ندهند .

بامطالعه این حقایق سوال پیدامي شودکه آیااین ظلم ووحشت چراتنها درحق مسلمانان ودرکشورهاي اسلامي رواداشته مي شود؟ جواب واضح است که سایراقوام وملل دنیا چون یهودان ، مسیحیان ،هندوان ... ازنیرومندي ونفوذ وروبه افزایش مسلمانان احساس خطرمي کنند وبراساس همین خوف وهراس خویش سعي وتلاش بخرج مي دهندکه هرجامسلمانان راسرکوب نمایند ، ونگذارند آنها سربلند نمایند، زیرا اگرمسلمانان نیرومندي وقوت حاصل کنند واضح است که درین صورت باید جهانیان جلونظام اسلامي به زانودرآیند وبه آن سرتسلیم خم کنند .

اکنون مطلب اساسي اینست که دشمنان چه شیوه ئي بکارمي بندند که هرجادرسرکوبي مسلمانان موفق مي شوند وپلان هاوبرنامه هاي شان درین رابطه به ثمرمي نشیند .

بااندك دقت برمي آیدکه رمز پیروزي حربه هاي دشمنان درین نهفته است که آنان برضد اسلام ومسلمانان کاملاً هماهنگي دارند ودرعملکرد هاي خویش علیه اسلام کاملاً وحدت نظردارند، ازاینجاست زمانیکه کدام ملت غیراسلامي برمسلمانان تجاوز ووحشت روادارد آنهانه تنهادررابطه به ظلم ووحشت شان خاموشي اختیارمي کنند بلکه درپشت پرده به حمایت آنها نیزمي پردازند .

دراینجاپاسوال پیدا مي شود که چرامسلمانان فوراً هدف تیردشمنان قرار مي گیرند؟ جواب اینست که دشمنان براي درهم ریختن نیرومندي مسلمانان ازهمه اولتر به وحدت وهمبستگي آنها یورش برده آن رادرهم مي زنند وبه این صورت به آساني مي توانند توانائي ونیرومندي مسلمانان را ازبین ببرند . پس اگر همه مسلمانان بحیث امت واحده دورهم جمع گردیده یك صف واحد وفشرده تشکیل دهند دیگربراي دشمنان مجالي

اکنون مطلب اساسي اینست که دشمنان چه شیوه ئي بکارمي بندند که هرجادرسرکوبي مسلمانان موفق مي شوند وپلان هاوبرنامه هاي شان درین رابطه به ثمرمي نشیند .
بااندك دقت برمي آیدکه رمز پیروزي حربه هاي دشمنان درین نهفته است که آنان برضد اسلام ومسلمانان کاملاً هماهنگي دارند ودرعملکرد هاي خویش علیه اسلام کاملاً وحدت نظردارند، ازاینجاست زمانیکه کدام ملت غیراسلامي برمسلمانان تجاوز ووحشت روادارد آنهانه تنهادررابطه به ظلم ووحشت شان خاموشي اختیارمي کنند بلکه درپشت پرده به حمایت آنها نیزمي پردازند .

نخواهد بود که علیه آنهابکدام اقدام موثروکارگردست یابند .

کنفرانس سازمان کشور هاي اسلامي هم چندان نقشي دررابطه بامسایل کشورهاي اسلامي بازي نمي کند زیرا باپوره شدن پنجاه سال سازمان ملل باید این کنفرانس سراپا احتجاج مي شد ودرین فرصت سروصدا براه مي انداخت که این چه ظلم ووحشت است که برمسلمانان روا داشته مي شود، لاکن این سازمان هم کاملاً خاموش وبي صدابه نظرمي آید، باید این کنفرانس بخاطردفاع ازحقوق تمام مسلمانانیکه درسراسر جهان مورد ظلم وستم قرارمي گیرند یك آجنداي مشترك ترتیب داده آن را به سران کشورهاي اسلامي مي سپرد که ازطرف آنهابه مجلس سازمان ملل پیش مي شد. وبخاطرعملي شدن آن به سهم خویش روي آن پافشاري واصرارمي ورزیدند ودرصورتیکه سازمان ملل درمجلس خویش صریحاً ازآن تخلف مي ورزید، تمام ممالك اسلامي به سازمان ملل اخطارمي کردندکه آنهاسهم خویش دربودیجه سازمان وتمام کمك هاي دیگرخویش را واپس خواهند گرفت .

درشرایط واوضاع کنوني اگرمسلمانان منتظرظهور کدام معجزه الله' اینکه درست نیست زیرا سلسله معجزه باختم نبوت ورسالت به انجام خویش رسیده ودیگر نمي توان ظهورآن را انتظارداشت،پس مسلمانان باید خودراجع به سرنوشت آینده خویش بیندیشند که به صورت پارچه پارچه واجزاي کوچك ومجزا ازیکدیگرزندگي مي کنند یابه شکل یك امت واحده داراي یك وحدت وهمبستگي که دشمنان رادرآن مجال نفوذ نباشد .

بقاوسلامت امت اسلامي به قوت ونیرومندي اسلام مربوط است، اسلام به هرپیمانه اینکه نیرومند وتوانا باشد به همان پیمانه ما چانس داریم که باقي ومستحکم باشیم . براي قوت ونیرومندي اسلام وحدت و همبستگي مسلمانان نه تنها ضروري مي باشد بلکه یگانه راه جبران اشتباهات وغلطي هاي گذشته وبقاواستحکام درآینده نیز همین است .

اکنون که علاوه برمسلمانان ، همه جهانیان به پالیسي وسیاست دوگونه نیروهاي بزرگ وکشورهاي استعماري پي برده اند ، برمسلمانان است که اقدامات ذیل را مورد اجرا قراردهند تا به مردم دنیا ثابت شود که مسلمانان بیداراند ودیگر نیرنگ هاوچال هاي دشمنان برآنهاکارگر واقع نمي شود .

۱- یك کنفرانس تشکیل داده شود که در آن سران ونمایندگان تمام کشورهاي اسلامي اشتراك ورزیده روي مسایل امت مسلمه بحث نمایندو یك لایحه مشترك ترتیب داده آن رابه سازمان ملل وتمام ممالك مترقي وانکشاف یافته غرض آگاهي آنها ابلاغ نمایند .

۲- کنفرانس سازمان کشور هاي اسلامي باید خاموشي وسکوت خویش را درقبال مسایل امت اسلامي شکسته فعالیت وتحرك تازه ازخود نشان دهدوبراي دفاع وپشتیباني ازحقوق مسلمانان موقف صریح وجدي اتخاذ کند .

۳- بادرك حساسیت وقت تمام ممالك اسلامي باید اختلافات شخصي وسلیقوي خویش را به طاق نسیان سپرده یك وحدت تشکیل دهند وکارودرجهت ایجاد هرچه بیشتر وحدت ، همبستگي وفشردگي در صفوف خویش را ازاولین فرایض خود تصورنموده به آن کاربند شوند .

٤- کشورسعودي باید بااتکا بخود وسایر کشورهاي اسلامي بي نیازي خویش را ازدنیاي کفر نشان داده امریکائیان را ازسرزمین خویش بدرکنند ، زیرا خدا خود خانه اش را حفاظت مي کندوخانه کعبه بــه حفاظت وحراست کساني نیازندارد که خود به وحدانیت خدا عقیده ندارند .

سازمان ملل اگر دررابطه باظلم ووحشتیکه برمسلمانان صورت مي گیرد خاموشي اختیارکرده به اقدامات موثر دست نزند باید کشورهاي اسلامي ازدادن سهم دربودیجه آن اباوورزند وبازار هاومارکیت هاي خویش رابه رخ اموال تجارت کشورهایکه بالاي مسلمانان ظلم وتجاوز روامیدارند ببندند تاتجارت آنها درمارکیت هاوبازارهاي تجارتي رونق نیابد .

جهان اسلام

متصدیان : وحدتیار و خلیل

دترکیي په انتخاباتوکي داسلام پلوي رفاه گوند کامیابي

